مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین
۲۰۲۶/۰۴/۱۴

# د افغانستان او روسيې ترمینځ نظامي او تخنیکي تړون

## (لومړۍبرخه)

د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد تر منځ سیاسي او دیپلوماتیکي اړیکي د ۱۹۱۹ کال د مې په ۲۷ مه د دواړو هېوادونو تر منځ د رسمي دیپلوماتیکو اړیکو له پیلیدو سره په رسمي توګه رامنځته شوې. شوروي اتحاد لومړنی هېواد و چې د شاه امان الله خان په مشرۍ یې د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپیژنده.

دغه اړیکې د لسیزو په اوږدو کې د لاندې مهمو پړاوونو او پېښو شاهدې دي:

د ۱۹۱۹ – ۱۹۷۸ کلونو ترمنځ همکارۍ: شوروي اتحاد افغانستان ته په پراخه کچه اقتصادي، تخنیکي او نظامي مرستې چمتو کړې، چې په کې د لویو لارو، بندونو، او فابریکو جوړول شامل وو. په ۱۹۷۳ کال کې د سردار محمد داود خان د کودتا پر مهال هم د دواړو هېوادونو ترمنځ دوستانه اړیکې په خپل ځای پاتې شوې.

د ۱۹۷۸ کال کودتا او د اړیکو ټرینګلتیا: د ثور له نظامي پاځون وروسته چې په افغانستان کې د خلق او پرچم ګوندونه واک ته ورسېدل، په خاص ډول د پرچمي واکمنۍ په وخت کې د شوروي اتحاد نفوذ په افغانستان کې خورا زیات شو.

د ۱۹۷۹ – ۱۹۸۹ کلونو جګړه: د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په پای کې د شوروي سرو لښکرو پر افغانستان نظامي یرغل وکړ او د ببرک کارمل په مشرۍ یې پر افغانستان او افغان ولس یو خرځ شوی ګوډاګی رژیم و تاپه. دې نظامي یرغل د شوروي اتحاد او افغان ولسونو تر مینځ لسیزه اوږده او خونړۍ جګړه رامنځته کړه. د افغان قهرمان ولس د بې دریغه سرښندنو، مقاومت او د جنیوا د تړونونو له مخې، د شوروي ځواکونو وتل د ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ په ۱۵ مه نیټه بشپړ شول.

د امریکا او ناټو د حضور پر مهال په افغانستان کې د روسيې اړیکې د امنیتي اندېښنو او سیمې د ثبات پر محور راڅرخېدې. مسکو د لویدیځ حضور خپل امنیت ته مستقیم ګواښ باله، خو د ترهګرۍ ضد مبارزې او د سولې پروسې په برخو کې یې د اړتیا له مخې له هغوی سره محدودې او عملي همغږۍ درلودې.

دلته د دې دورې د اړیکو مهم اړخونه په لنډ ډول کتلی شو:

امنیتي اندېښني او ګواښونه: روسیې د ناټو حضور د خپلو پولو (منځنۍ آسیا) په لور د نفوذ د پراختیا په سترګه کتل. مسکو تل اندېښنه درلوده چې د امریکا شتون دایمي دی او د سیمې د بې ثباتۍ لامل ګرزیدلای شي.

د طالبانو سره اړیکي: د طالبانو د ځیلو په موخه د امریکا او ناټو له هڅو سره سره، روسیې د سیمې د امنیت (په ځانګړې توګه د داعش د مخنیوي) په پلمه د طالبانو له ځینو استازو سره په مسکو کې خبرې اترې پیل کړې او له هغه وخت نه را دیخوا یې اړیکي ورسره جوړې کړې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د مخدره توکو او تروریزم ضد همکاري: د ګډو ګټو په ځینو برخو لکه د تروریزم او مخدره توکو قاچاق پر وړاندې مبارزه کې، روسيې او لویدیځ تر ډېره د استخباراتي معلوماتو تبادله کوله او د روسيې له لارې د ناټو ځواکونو ته د اکمالاتو (لکه ریل پټلۍ او هوايي حريم) اجازه ورکړل شوې وه.

د سولې هڅې: د افغان سولې پروسې په وروستیو کلونو کې، روسيې د (مسکو فارمیټ) په جوړولو سره هڅه وکړه چې د افغان حکومت، امریکا او طالبانو ترمنځ په سیاسي کچه منځګړیتوب وکړي او په افغانستان کې د خپل نفوذ توازن وساتي. خو په ټوله کې، د یاد حضور پر مهال د روسيې ټګلاره دوه مخې وه، له یوې خوا یې د ناټو نظامي حضور په کلکه غانده، او له بلې خوا یې د افغان جګړې د مدیریت او سیمه ییزو ګواښونو د کنټرول لپاره له امریکا او ناټو سره د عملي ډیپلوماسۍ لار غوره کړې وه.

اوسنی وضعیت: د امریکايي اشغال او د ناټو ځواکونو د ماتې او تیښتې له سقوط وروسته، د طالبانو د حاکمیت په موجودیت کې د روسيې د یو شمېر اندیښنو سره، سره اوسنۍ اړیکې د افغانستان او روسيې د فدراسیون تر منځ د ډیپلوماتیکو استازولیو او د سیمه ایزو همکاریو په چوکاټ کې پرمخ ځي. دواړه لوري د امنیتي، اقتصادي او ډیپلوماټیکو مسایلو په اړه کله ناکله مشورې او خبرې اترې کوي.

روسیه له افغانسیتان سره د ښو اړیکو او مناساتو ساتل حیاتي او د اهمیت وړ بولي، همدا علت هم دی، چې د ټولو نړیوالو په خاص ډول د امریکې او غربي هیوادونو له فشارونو سره، سره یې خپل سفارت تر اوسه په افغانستان کې فعال وساته او د نړۍ لومړی هېواد و چې د طالبانو حاکمیت یې په رسمیت و پیژاند.

په دې کې شک نه شته چې د امریکا د متحده ایالاتو د جمهور رئیس دونالد ټرامپ ورستیو غلطو او ناکامه پالیسیو نړیوالو تعاملاتو کې نوې بدلونونه رامینځته کړل، چین، روسیه او شمالي کوریا یې نور هم سره رانږدې کړل، د امریکا، اسرائیلو او ایران په جګړه کې د د غو درې پر مختللو هېوادو تبلیغاتي، استخباراتي او ممکن عملی مرستو د ایران مقاومت او نظامي وړتیا لا پیاوړې کړه او امریکا یې د جګړې پر ځای خبرو اترو ته مجبوره کړه، دغه جګړې د امریکا غرور دومره را ټیټ کړ چې د پاکستان منځګړیتوب ته هم مجبور شو، چین ته د ټرامپ ورتګ یو بل د هغه د بې وسۍ او ناکامۍ لامل یادولای شو، د ترامپ د بې وسۍ یو لامل همدا هم و، چې د نړۍ د یو سوپر پاوړ او ځواکمن هېواد جمهور رئیس مخې ته د چین جمهور رئیس را نغلو، چې دا د دپلوماتیکو مناسباتو له مخې یو سپکاوي یادولای شو.

په نړیوالو لوبو او تعاملاتو کې یو شمېر نور مسایل هم د یادولو وړ دې چې د روسيې پاملرنه یې افغانستان او له طالبانو سره د ښو اړیکو ساتلو ته راجلب کړه، د دونالد ټرامپ له لورې وار وار، د بګرام د اډې بیرته تر لاسه کول، چې په دې هکله د طالبانو جدي غبرګون او منفي ځواب امریکا ته د روسيې پاملرنه را جلبوي، همدا ډول د امریکا په لمسون د پاکستاان مکرر تجاوز د افغانستان پر خاوره او یو شمېر نور استخباراتي پټ رازونه د دې لامل شوول چې په چین هېواد کې د روسيې او چین هېواد په ګډه اعلامیه کې د افغانستان د تجزیې خوبونه، د افغانستان پر خاوره تجاوزونه په کلکه توګه وغندل او د افراطیت او مخدره توکو د له منځه وړلو په لار کې د طالبانو د مبارزو سره د هر ډول همکاریو ژمنه تر سره شوه.

د پورتنیو ژمنو د عملي کولو عملي چاره یوه همدا ده چې د افغانستان د دفاع وزیر محمد یعقوب مجاهد تېره سه شنبې په نړیوال امنیتي فورم کې د ګډون له پاره مسکو ته ولاړ، چې په همدې سفر کې د افغانستان او روسيې تر مینځ یو نظامي، تخنیکي، دفاعي تړون هم لاسلیک شو.

د افغانسان او روسيې ترمینځ نظامیاو تخنیکي تړون د ستراتېژیک او دفاعي تړون پر لور یو مهم ګام دی چې د دغه تړون له مخې به افغانستان ډېرژر د خپل دفاعي سیستم خاوند شي.

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ